# د ریاضی لارښود
# د دویم ټولګی لپاره




AFRANE
AMITIÉ FRANCO-AFGHANE

# د رياضی لارښود
# د دويم ټولګي لپاره

## د کتاب ځانګړينی


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم: | د رياضی لارښود د دويم ټولګي لپاره |
| ليکوالان: | محمدامين"مخلص" او محمدصادق"صالح جمال" |
| ژباړونکی: | شکريه "کاکړ" |
| د نظرلاندی: | اتين ژيل، محمد حاسين "محب" او حميد الله"ميرزايی" |
| نوبت چاپ: | دوم |
| تيراژ: | ۴۰۰ جلد |

# لړلیک

**مطالب** **پاڼې**


ســـــريـــــزه ............................................................................................أ

وييپانګه...........................................................................................ج

١ – د عدد مفهوم......................................................................................1

٢ – الف: د لسيزو اعدادو په سيستم باندې کار ......................................................4

٢ – ب: د لسم عدد پيژندنه ...............................................................................5

٣ – متناوب شميرل (دوه، دوه، درې، درې ... زياتول)...........................................8

٤ – سليزعدد باندې کار (فعاليت) ......................................................................10

٥ – د دوه رقمي اعدادو جمع د دوه رقمي عدد سره...............................................13

٦ – د دوه رقمي اعددو جمع د دوه رقمي عدد سره چې حاصل ولري. .........................16

٧ – له دوه رقمي عدد څخه د يو رقمي عدد تفريق کول. .........................................18

٨ – له دوه رقمي اعدادو څخه دوه رقمي اعدادو تفريق............................................20

٩ – د ٥٠ × ٥٠ تختې سره لوبه ..........................................................................22

١٠ – سليز او زريز اعدادو باندې کار (فعاليت)........................................................24

١١ – د درې رقمي اعدادو جمع کول:......................................................................27

١٢ – د درې رقمي اعدادو تفريق د لسيز له خلاصولو څخه پرته ..................................29

١٣ – د درې رقمي اعدادو جمع کول چې حاصل ولري .............................................31

١۴ – د درې رقمي اعدادو تفريق چې (لسيز خلاصولو) ته ضرورت لري........................33

١۵ – د ضرب مفهوم ..........................................................................................35

١٦ – د يورقمي عدد ضربول په يو رقمي عدد کې.....................................................37

١٧ – د يو رقمي عدد ضربول په دوه رقمي عدد کې ...............................................39

ضربول په بلې طريقې سره ............................................................................41
۱۸ – د وېش (تقسيم) مفهوم..........................................................................42
اخځليکونه..........................................................................................44

# ســــــریــــزه

څنګه چې څرګنده ده، ښوونه او روزنه د بشر د ژوندانه اساس جوړوي او دا هم ښکاره خبره ده چې دغه ښوونه او روزنه د یوه ښه ښوونکي په مرسته سر ته رسېدای شي، نو یو ښوونکی درسي موادو ته لکه: درسي کتابونه، ممد درسي مواد او یو منظم درسي پلان، همدارنګه د ښه درس وړاندې کولو لپاره بیل بیل لارو چارو ته اړ دی تر څو یوه ښه او کامیابه ښوونه تر سره کړي.
کوم کتاب چې ستاسو یې په اختیار کې لرئ، د څو مودې له تجربو او لاس ته راوړنو څخه په همدې اړه ترتیب شوی دی. په دې کتاب کې زیار ایستل شوی دی تر څو د ریاضي د دوییم ټولګي درسي موضوعې د لوبو تر سره کولو او درسي موادو نه د ګټې اخیستلو سره او د مختلفو میتودونو په کارولو سره مخ ته یوړل شي.
د درسي موادو نه کار اخیستل، له یوې خوا زده کوونکي هڅوي او زده کړې ته مینه پـــــیدا کوي. همدا رنګه د هرې موضوع مانا او مفهوم په ښه توګه وړاندې کېدای شي.

په درناوی
د افرن د موسسی پیداګوژۍ څانګه

# وييپانګه

ځينو کلمو، مواد او وسايلو ماناوې چې په دغه کتاب کې په کار وړل شوي دي.

| کلمې | د کلمو ماناوې |
| --- | --- |
| **قوطی** | **دلسيز، جوړولو لپاره.** |
| **کڅوړه** | **وړوکي کڅوړه چې له تکې او پلاستيک څخه جوړ شوي دي د سليز د پيژندلو لپاره. (لس قوطي په يوه کڅوړه کي اچوو چې يو سليز کيږي)** |
| **پلک** | **کاغذی فلش کارتونه چې بيل بيل اندازی لري په پلاستيک باندي پوښ او پريس شوی دي لکه د عدادو فلش کارتونه، پروانی، يويز ونه، لسيز ونه سليزونه.** |
| **د لرګي تخته** | **تخته د ۵۰ × ۵۰ سانتی مترو په اندازه چې يو خوايي په سلو مساوی برخو باندي ويشل شوي ده او په بله خواکي مستطيل او مربع رسم شوې دي چې د اعدادو زدکړې او پرتله کولو لپاره کار اخيستل کيږي.** |
| **د اوبود بوتل سر پوښ** | **چې د هغو پر سر د يوه څخه تر نه پورې عددونه، په تورو ليکل شوي دي.** |
| **عدد** | **عدد يو وسيله ده دستونزو دحل لپاره، يا په بله وينا عدد هغه نښه يا وسيله ده چې شميره څرګندوي.** |
| **سمبول يا نښه** | **سمبول هغه نښه ده چې عدد ښکاره کوي.** |
| **هدف يا موخه** | **موخه په لغت کي، د نښې په معنا او په اصطلاح کي هغه ښکارنده يا پديده چې د عمل څخه له مخه په نظرکي نيول کيږي. شخص خپل توان او د اړتيا وړ درسی مواد د ښه زدکړې لپاره په نظر کې نيسي ترڅو خپل موخه ترلاسه کړي.** |
| **د زد ه کړې فعاليت** | **د ښوونکو اوزده کوونکو ټول فعاليتونه (موخې او زدکړې د لاسته راوړلو لپاره په يوې ټاکلې موده کې) د زده کړي فعاليت نوميږي.** |
| **ډلييز فعاليت** | **هغه فعاليت چې، زده کوونکي د شمير په لحاظ، په ۳ او ۶ کسيزه ډلو ويشو چې د استعداد له مخې په هرې ډلې کې درې کتګوری زده کوونکي په نظر کي نيول کيږي.** |
| **يوکسيز يا انفرادی فعاليت** | **هغه فعاليت چې هر زده کوونکی په عين موده کې په يواځې توګه د يوې مسئلې د حل لپار ه زيارو باسي د انفرادي فعاليت په نامه يادېږيي.** |
| **درسي مواد يا ممددرسی** | **درسي مواد عبارت له هغه ځيزونو څخه دي چې د درس د موخې لاسته راوړلو لپاره کارول کيږي (خواه محيطی مواد وي او يا د کوم بلې منبعې څخه جوړ شوي مواد).** |

دغه کتاب د ښوونکو لپاره يو رهنما دی، ښوونکي کولای شي چې خپل تدريس کې د موضوع په نظر کې نيولو سره له دغه کتاب د فعاليتونو څخه کار واخلي

## ۱ ـــ د عدد مفهوم

لوبه د پلکنو سره چې اعداد د صفر څخه تر نه پورې په سمبول او عدد ليکل شوي دي.

**موخه:** د اعدادو زده کړه په درې بڼو (عدد، حرف او سمبول)

**موده:** يوه نه تر شپږ درسي ساعتونه.

**لازمي درسي مواد:** د پلکونو درې بنډ له ۱۴×۱۰ سانتي متره چې په يوه مخ يې عدد اوپه بل مخ يې سمبول ليکل شوی دی.

**فعاليت:** په ډلييزه او يوکسيزه توګه سرته رسيږي.

**د لوبې سرته رسول۱:** د اعدادو ليکل او د زده کړې لپاره د صفر څخه تر نه پورې، هغه پلکونه چې په هغه کې عدد په تعداد، عدد په سمبول، او عدد په توري يا حرف ليکل شوی، ور څخه کار اخلو او په ډلييزه او يوکسيزه توګه سرته رسيږي. لمړی هغه پلکونه چې اعداد په عدد يا تعداد پرې ليکل شوي د تختې په مخ ځوړندوو وروسته د زده کوونکو څخه پوښتنه کوو چې څو داني توپک د پلک پر مخ وينئ وروسته هغه پلک چې عدد په سمبول پرې ليکل شوی او هغه پلکونه چې عدد په توري ليکل شوی د هغه په څنګ کې ځوړندوو.

| | | |
|---|---|---|
| صفر | ۰ | |
| يو | ۱ | ● |
| دوه | ۲ | ●● |
| درې | ۳ | ●●● |
| څلور | ۴ | ●●●● |
| پنځه | ۵ | ●●●●● |
| شپږ | ۶ | ●●●●●● |
| اووه | ۷ | ●●●●●●● |
| اته | ۸ | ●●●●●●●● |
| نه | ۹ | ●●●●●●●●● |

**د لوبې سرته رسول۲:** لمړی هغه پلکونه چې تعداد يې پر مخ ليکل شوي د تختې کين خواکې د صفر څخه تر نه عدد پورې ځوړندوو، هغه پلکونه چې پر مخ يې اعداد په سمبول او حرف (توري) ليکل شوي ځايونه يې بدلو لکه مخامخ انځور او له زده کوونکو څخه غواړو چې په انفرادي توګه د سمبول له مخې نور پلکونه ترتيب کړي. لکه يو زده کوونکي ته وايو چې شپږ او اوه عدونه راوښياست کله چې يې وښودل، زده کوونکي ته وايو چې څلور او اته را وښياست.

| | | |
|---|---|---|
| اته | ۸ | |
| صفر | ۳ | ● |
| دوه | ۷ | ●● |
| شپږ | ۰ | ●●● |
| څلور | ۲ | ●●●● |
| درې | ۵ | ●●●●● |
| نه | ۶ | ●●●●●● |
| پنځه | ۹ | ●●●●●●● |
| يو | ۴ | ●●●●●●●● |
| اووه | ۱ | ●●●●●●●●● |

| | | |
|---|---|---|
| | | |
| ● | | |
| ●● | | |
| ●●● | | |
| ●●●● | | |
| ●●●●● | | |
| ●●●●●● | ۶ | شپږ |
| ●●●●●●● | ۷ | |
| ●●●●●●●● | | |
| ●●●●●●●●● | | |

**بیلګه:** لمړی زده کوونکي دې دغسي کار وکړي.

**فعالیت:** په ډلییزه توګه کار تر ســـره کیږي او ډلې د زده کوونکو په شمېره تنظمیږي.

**لوبې د بوتل د سرپوښونو سره:** د بوتل سرپوښونه چي اعداد د صــفر څخه تر نه پورې په حرف باندې لیکل شــوي په کڅوړه کې اچوو.

**د لوبې تشریح:** د بوتل سر پوښونه چي د څلورو څخه تر شـــپږ پورې اعداد په تورو پرې لیکل شـــوي کڅوړي کې اچوو. لمړي ګروپ ته ورکوو، هغه سرپوښونه چي د اوو څخه تر اته پورې اعداد په تورو لیکل شـــوي کڅوړې کې اچوو دوییم ګروپ تـه ورکوو، هغـه سـرپوښـونه چي د صـفرڅخه تر درې چي په تورو لیکل شـوی کڅوړې کې اچوو دریيم ګروپ تـه ورکوو هر ګروپ تـه پلکونـه چي اعداد پـه تورو او سمبول، توري او عدد، سمبول اوعدد باندې لیکل شوي، ورکول کیږي او هر ګروپ درې یا څلور ځلې سر پوښونه له کڅوړې څخه اخلی او هغه لولي او هم هغه عدد د پلکونو له مینځ نه لټوي چي د بوتل ســـر پوښ کې په توري لیکل شـــوی او وروســـته عدد او ســـمبول ولټوي او ښوونکی هر ګروپ څاري او ځان سره لیکي په پای کې کوم ګروپ چي اشـتباه کار کړی وي ښـوونکي د هغه ګروپ سـتونزې په ګوته کړي. او وروسـته ښـوونکي کولاي شـي سـرپوښـونه د یو ګروپ نه بل ګروپ ته ورکړي.











**د لوبې سرته رسول:** هغه پلکونه چې یو خوایې عدد او بل خوایې سمبول د سمبول خوا یې په تخته کې ځوړندوو، نور پلکونه چې یو خوایې توری اوبل خوایي عدد، او یو خوایي توری بل خوایي سمبول د میز په سر یې ږدو یوه زده کوونکي ځخه غواړو هغه پلک چې په تختې کې ځوړند دی لکه دځلور سمبول نور پلکونه چې ځلور په عدد او ځلور په توري هغوي باندې لیکل شوی پیدایي کړی لمړی زده کوونکي هغه پلک چې په تختي باندې ځوړند دی بل خوایي واړوې ګوري چې ځلورم عدد دی. همدارنګه هغه پلک چې د میز په سر دی یو خوایي ځلور په عدد او په بل خوایي په توري لیکل شوی، اخلي او کوم خوایي چې ځلور په عدد دی په تخته کې د ځلور سمبول څنګ کي ږدي وروسته دوییم پلک چې پر تختې یې ځوړند کړی بل خوایي اړوي ګوري چې ځلورپه تورو وربـاندې لیکل شوی پیدا کوي د ځلور عدد څنګ کي ږدي او نور متباقی اعداد همدارنګه کار وشي.

## ۲ ــ الف: د لسیزو اعدادو په سیستم باندې کار

**موخه:** د دوه رقمي اعدادو پیژندل.

**موده:** درسي څلور ساعتونه.


**دارتیا وړ درسي مواد:** لوبیا ۰،۵ کیلوګرامه، وړوکی بوتل ۲۵ دانې د لسیز د جوړولو لپاره. پلکونه چې د لسیز په څیر ښودل شوي او پلکونو چې یویز او لسیز یې پر مخ لیکل شوي دي، او سریش Patafix.


**فعالیت:** کار په ګروپي او انفرادي توګه سرته رسیږي.

**تبصره:** د دلییز کار موخه، یویز او لسیز پیژندنه د دوه رقمي اعدادو لیکنه. د یواو لسیز د پیژندلو لپاره د دوه رقم رنګونو څخه کار اخیستل شوی.

**د لوبی سرته رسول:** د بیلګې په توګه: د هر ګروپ لپاره لوبیا چې تعداد یې معلوم وي، سره د تش قطی ورکوو چې له همدغه لوبیا څخه لسیز او یویز جوړ کړي. د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کړي، او په انفرادي توګه کولای شو د زده کوونکو څخه پوښتنه وکړو چه ۱۲ ولیکه؟ څو یویز لري او څولسیز؟


وروسته ښوونکی ۱۱ دانې لوبیا او ۲۵ دانې لوبیا بیل بیل اخلې قطی کې اچوي، یویز او لسیز یې معلوموي.







## ۲ – ب: د لسم عدد پيژندنه

اوس د لسم عدد د پيژندنګلوی لپاره، ۹ جمع يوه لوبيا (۱۰ لوبيا) اخلو نظر لاندېني انځور، هغه په قطی کې اچوو. ليدل کيږي چې يويز هيڅ باقي پاتې نه دی مونږ مخکې و يلي وه چې: په رياضي کې هيڅ ته صفروايي په دې مانا چې صفر يويز او يو لسيز.








په دې مرحله کې هغه پلکونو نه چې يو طرف يي عدد په سمبول او په بل طرف يي عدد په شکل کې ښودل شوی دی، کار اخلو او له زده کوونکو څخه پوښتو چې ۲۵ څو يويز او څو لسيز لري؟




۵ ۲

**فعاليت:** لاندې بڼې څو يويز او څو لسيز لري؟

وروسته یوه اندازه لوبیا، او وړوکی قطی هرې ډلې ته ورکوو چې له هغه نه یویز او لسیز جوړ کړي، ښوونکی له هرې ډلې څخه پوښتنه کوي چې څو یویز لري او څو لسیز؟

لاندې انځور په څیر:




A ډله امکان لري ووایي، زمونږ اته یویز او څلورلسیز شوی دی. وروسته ښوونکی وایي: اته یویز او څلور لسیز اته څلوېښت منل شوي دي.

| یویز | لسیز |
|---|---|
| ٨ | ۴ |

دB ډله امکان لري ووایي چې زمونږ شپږ یویز او دوه لسیزشوی دی. وروسته ښوونکی وایي، شپږ یویز او دوه لسیز شپږویشت منل شوی دی.


| یویز | لسیز |
|---|---|
| ٦ | ٢ |

د C ډله به خامخوا ووایي چې زمونږ (٩) نه یویز او دوه لسیزشوی دی. وروسته ښوونکی وایي، نه یویز او دوه لسیز (نه ویشت) منل شوی دی.

| یویز | لسیز |
|---|---|
| ٩ | ٢ |


پورتني بېلګو په څېر تر٩٩ پورې مخ ته ځو.

**تمرين:** لاندې تش ځايونه د شکلونو له مخې ډک کړئ.




..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... =.......




..... يويز + ....... لسيز= ٢٦

......... + ......... = ٢٦




..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... =.......




..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... =.......



..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... =.......



..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... =.......


## ۳ – متناوب شمیرل (دوه، دوه، درې، درې ... زیاتول)

**موخه:** زده کوونکي باید متناوب شمیرل زده کړي.

**موده:** د درسی ځلور سا عته زده کوونکو باندې کار وشي.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** تختي ۵۰ × ۵۰ سانتی متره او ۵ × ۵ سانتی متره پلکونه.

**فعالیت:** په یوکسیزه توګه سرته رسیږي.





**د لوبې سرته رسول:** هغه ۵ × ۵ جفت پلکونه چې هغه باندې اعداد لیکل شوي نظر د زده کوونکو شمیرې په لحاظ و هغوی ته ورکړل شي هر زده کوونکی باید ځان وپیژني (کوم عدد چې هغه ته رسیدلی باید په یاد ولري) لمړی هغه زده کوونکی چې دویم عدد ورسره دی وايي زه دوه یم له مانه دوه څوک زیات دي؟ هغه زده کوونکی چې ځلور ورسره دی وايي زه ځلوریم دوه له ما څخه څوک زیات دی؟ هغه زده کوونکی چې شپږ ورسره دی وایي زه شپږیم دوه زیات له ما څخه څوک دی؟ ... تر پایه همدارنګه مخ ته ځو. او همدارنګه کولای شو تاق اعداد نظر د ټولګي شمیر ته وویشو. لمړی زده کوونکو سره یو عدد دی، وايي زه یو یم دوه زیات له ما څخه څوک دی؟ هغه زده کوونکی چې درې ورسره دی وايي زه درې یم له ما څخه دوه څوک زیات دی؟ تر پایه همدارنګه مخ ته ځو.

همدارنګه کوم عدد چې روستني زده کوونکي سره دي مخ ته ځو.

## ۲- متناوب شمیرل (درې، درې ... زیاتول)





**د لوبې سرته رسول:** اعداد له دریو څخه پیل کوو ټول د درې مضارب د ټولګي شمیر په زده کوونکو باندې ویشو هر زده کوونکي ته چې کوم عدد رسیږي باید ځان وپیژني او خپل عدد حفظ کړي، لکه کوم زده کوونکي سره چې دریم عدد دی، وايي زه درې یم له ماڅخه درې زیات څوک دی؟

بل زده کوونکی وایي زه شپږ یم درې له ما څخه څوک زیات دی؟

## ۳- متناوب شمیرل( څلور، څلور... زیاتول)



**دلوبې سرته رسول ۱:** اعداد له څلورڅخه پیل د څلور ټول مضارب د ټولګي په شمیرې باندې ویشو هر زده کوونکي ته چي کوم عدد رسیږي باید ځان وپیژني او خپل عدد حفظ کړي، لکه کوم زده کوونکي سره چي څلورم عدد دی، وایي زه څلوریم له ماڅخه څلور زیات څوک دی؟ بل زده کوونکی وایي زه اته یم څلور له ماڅخه څوک زیات دی؟

همدارنګه لکه پورتني فعالیت په شان مخکې ځو.



**د لوبې سرته رسول ۲:** ښوونکی تخته د میز په سر ږدي هر زده کوونکی بیل بیل غواړي او ورته وایي دوه، دوه زیات کړه. دوه او څلور خپله ښوونکی د تختې په سر ږدي او باقي تر شل پوري دي زده کوونکي بشپړ کړي او همدارنګه درې، درې، څلور، څلور ... په مخ لاړ شي.



**د لوبې سرته رسول ۳:** ښوونکی تخته د میز په سر ږدی هر زده کوونکی ته بیل بیل غواړي او ورته وایي درې، درې زیات کړه. درې او شپږ خپله ښوونکی د تختې په سر ږدي او باقي تر آخره پو رې زده کوونکي بشپړ کړي او همدارنګه څلور، پنځه، پنځه ... پر مخ ولاړ شي.

## ۴ ـ سلیزعدد باندې کار (فعالیت)

**موخه:** د درې رقمي ا عدادو زده کړه.


**موده:** د درسي ۳ ساعته.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا ۰,۵ کیلوګرامه، وړوکی بوتل د ۲۵ دانه یي لسیز د جوړولو لپاره، ۵ کڅوړې د سلیز جوړولو لپاره، پلکونه چه یویز، لسیز او سلیز چې په شکل کی ښودل شوي دي، پلکونه چه یویز، لسیز او سلیزیي پر مخ لیکل شوی دی او سریښPatafix.

**فعالیت:** په ډلییزه او یو کسیزه توګه فعالیت سر ته رسول کېږي.


**تبصره:** د بیلګې په توګه: د هر ګروپ لپاره ټاکل شوې لوبیا(۱۰۰ دانی)، قوطۍ او کڅوړه ورکوو چې له همدغه ټاکل شوې لوبیا، قوطۍ او کڅوړې ځخه لسیز او سلیز جوړ کړئ او د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کوي. لمړې ځل د همدغه ورکړ شوی لوبیا څخه لسیزونه جوړ کړي لیدل کیږی چې لس لسیز شوی دی ، دوییم ځل لس لسیز په یو کڅوړي کي واچوی یو سلیز جوړ کړي لکه لاندې انځور په څیر. همدا رنګه کولای شو د زده کوونکو څخه پوښتني وکړو چې (۱۰۰) ولیکه یویز، لسیز او سلیز یې وښییه!

**د لوبې سرته رسول ۱:** مونږ کولای شو سلیز په درې بنو وښیو کله چې سل داني لوبیا ولرو ویلای شوچې سل یویز لرو وروسته د سل یویز څخه لسیزونه جوړو او لس لسیز په یو کڅوړې کې اچو او سلیز جوړوو.





| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ |
| صفر یویز صفر لسیز یو سلیز | صفر یویز لس لسیز | سل یویز |

**د لوبې سرته رسول ۲:** زده کوونکو تر ۹۹ پورې زده کړي دي. اوس نه یویز او نه لسیز لرو کله چې یو یویز ورسره یوځای کړو، لس یویز ښخه یو لسیز جوړو چې له مخکې نه لسیز سره، لس لسیز کیږي.




اوس کولای شو ۱۰۰ په درې بنو وښیو:

۱- کله چه ۱۰۰ ولرو لکه لاندې بڼه.



سل یویز

۲- کله چه سل یویزونه ولرو کولای شو چې د هغه څخه لس لسیز جوړ کړو لکه د لاندې بڼي په څیر



۱۰۰

صفر یویز  لس لسیز

۳- کله لس لسیزونه ولرو کولای شو چې د هغه څخه یو سلیز جوړ کړو لکه لاندې بڼي په څیر:



۱۰۰

صفر یویز  صفر لسیز  یو سلیز

**فعالیت ۱ :** لاندې شکل ته و ګورئ او تش ځایونه په مناسب اعدادو سره ډک کړي.



| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

**فعالیت ۲ :** لاندې شکل ته وګورئ او تش ځایونه په مناسب اعدادو سره ډک کړي.



| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

## ۵ ـ د دوه رقمي اعدادو جمع د دوه رقمي عدد سره

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي د دوه رقمي عدد د دوه رقمي عدد سره جمع کړي.

**موده:** ۵ څخه تر ۸ درسي ساعته.


**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا، وړوکي قوطۍ د لسيز جوړولو لپاره ۲۵ داني.

**فعاليت:** په ډلييزه توګه فعاليت سرته رسيږي.

**د لوبې سر ته رسولو لاره:** بيل بيل پوښتني هرې ډلې ته ورکوو او وروسته د هرې ډلې استازی خپله پوښتنه په تختې باندې حل او تشريح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.


**لمړی بيلګه:** غواړو ۱۳عدد د ۱۲عدد سره جمع کړو.

**حل:** لکه تيرې بيلګي غوندې عمل کوو.



| | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| | ۱ | ۳ |
| + | ۲ | ۴ |
| | ۳ | ۷ |

**دوييمه بيلګه:** د ۲۵ عدد سره ۲۳ عدد جمع کوو. لمړی يويز له يويز سره جمع کوو او لسيز له لسيز سره جمع کوو.




| | لسيز | يويز |
|---|---|---|
| | ۲ | ۵ |
| + | ۲ | ۳ |
| | ۴ | ۸ |

**دریيمه بېلګه:** د ۱۰ عدد د ۱۱عدد سره جمع کوو.

**حل:** د درسي موادو په کارولو سره، د دوه رقمي عدد جمع کول د دوه رقمي عدد سره یویز د یویز، او لسیز د لسیز سره.


| لسیز | یویز |
|---|---|
| ١ | ١ |
| + ١ | ٠ |
| ٢ | ١ |



**څلورمه بېلګه:** د ۳۰ عدد جمع د ۲۰ عدد سره.

**حل:** لمړی د درسي موادو سره، صفر یویز د صفر یویز، درې لسیز د دوه لسیز سره جمع کوو او د موادو له مخې تشریح کوو.


| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٣ | ٠ |
| + ٢ | ٠ |
| ٥ | ٠ |




**پنځمه بېلګه:** د ۲۲ عدد جمع د ۳۴ عدد سره.

**حل:** لمړی د درسي موادو سره، دوه یویز د څلور یویز، دوه لسیز د درې لسیزو سره جمع کوو او د موادو له مخې تشریح کوو


| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٢ | ٢ |
| + ٣ | ۴ |
| ۵ | ٦ |




**تمرین:** د شکلونو له مخې جمع او بشپړ کړئ.




| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ٦ | ٣ |
| ٣ | ٢ + |




| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ٧ | ٢ |
| ٢ | ٣ + |




| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ٥ | ٢ |
| ۴ | ٢ + |



| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ٥ | ٣ |
| ٣ | ٢ + |



| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ۴ | ٣ |
| ٣ | ٣ + |



| یویز | لسیز |
| --- | --- |
| ٧ | ٣ |
| ٠ | ٢ + |

## ٦ ـ د دوه رقمي اعدادو جمع د دوه رقمي عدد سره چې حاصل ولري.

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي د دوه رقمي عدد د دوه رقمي عدد سره چې حاصل ولري جمع کړي


**موده:** څلور د درسی ساعته.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا، وړوکي قوطی د لسیز جوړولو لپاره ۲۵ دانې


**فعالیت:** په ډلییز او انفرادي توګه فعالیت سرته رسیږي.

**فعالیت:** بېل بېل پوښتني هرې ډلې ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشریح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.


**لمړی بېلګه:** غواړو ۲۷ عدد د ۲۵ عدد سره جمع کړو.




**دوییمه بېلګه:** د ۳۵ عدد د ۲۸ عدد سره جمع کوو.




**فعالیت ۱:** د بڼي له مخي جمع کړی.




| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ۳ | ۴ |
| + ۳ | ۸ |
| | |

**فعالیت ۲:** د بڼي له مخي جمع کړی.



| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| ۴ | ٦ |
| + ۲ | ۷ |
| | |

**فعالیت ۳:** د بڼي له مخي جمع کړی.



| لسیز | یویز |
| --- | --- |
| | |
| + | |
| | |

## ۷ ـ له دوه رقمي عدد څخه د يو رقمي عدد تفريق کول.

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي يو رقمي عدد د دوه رقمي عددو څخه تفريق کړي.


**موده:** درسي دوه ساعته

**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا، وړوکي قوطی.


**فعاليت:** په ډلييز او انفرادي توګه فعاليت سرته رسيږي.

**تبصره:** بېلې بېلې پوښتنې هرې ډلې ته ورکوو دهر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشريح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتنې کولای شو.


**لمړی بېلګه:** تفريق کړی؟




**حل:** د ۲ يويز څخه ۶ يويز کم ولای نشو، خپل لسيز ماته ووکله چې خپل لسيز مات کړ له ۲يويز سره ۱۲ يويز کيږي. وروسته له ۱۲ يويز څخه ۶ يويز کمه وو.




**دوویمه بیلکه:** له ۴۳ څخه ۸ د لاندي انځور په څير تفريق كوو.



| | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | ۴ | ۳ |
| − | | ۸ |
| | ۳ | ۵ |

**فعالیت ۱:** د انځور له مخي تفريق كړئ.



| | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | ۵ | ۴ |
| − | | ۹ |
| | | |

**فعالیت ۲:** د انځور له مخي تفريق كړئ.



| | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | ۳ | ۴ |
| − | | ۷ |
| | | |

## ۸ ــ له دوه رقمي اعدادو څخه دوه رقمي اعدادو تفریق

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي دوه رقمي عددونو څخه دوه رقمي عدد تفریق کړي.

**موده :** څلور د درسی ساعته.


**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا، او وړوکي قوطی ۲۵ دانی.

**فعالیت:** په ډلییز او انفرادی توګه فعالیت سرته رسیږي.


**فعالیت:** بېلي بېلي پوښتني هرې ډلي ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختي باندي حل او تشریح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.

**بیلګه ۱:** تفریق کړئ؟ ۱۳ -۳۱


**حل:** پوهیږو چې ۳۱ درې لسیز او یو یویز لري نو د یو یویزو څخه درې یویز کمولاي نشو لمړي یو لسیز ماته وو چې یو یویز سره یوولس یویز کیږي اوس درې یویز له یوولس یویزو څخه کم وو.




**بیلګه ۲:** د شکل له مخي تفریقوو.




**فعالیت:** دانځور له مخې تفریق کړئ؟



| | لسيز | یویز |
|---|---|---|
| | | |
| − | | |
| | | |

**فعالیت:** تفریق او په شکل کې وښیاست.



| | لسيز | یویز |
|---|---|---|
| | ٥ | ٠ |
| − | ٢ | ٧ |
| | | |

## ۹ ــ د ۵۰ × ۵۰ تختې سره لوبه


**موخه :** د لږ او ډېر اعدادو پېژندنه (زده کوونکي کوچني او غټ اعداد وپېژني)

**موده:** درسي یو ساعت.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** ۵۰ × ۵۰ سانتی متره د لرګیو تخته، ۵×۵ سانتی متره پلکونه چې، اعداد د یوه څخه تر سلو پرې لیکل شوي دي. فلش کارتونه چې، کوچنی او غټه علامه پرې لیکل شوې ده.


لاندیني انځور په څېر:

**فعالیت:** په ډلییزه توګه فعالیت سرته رسیږی.




**د لوبې سر ته رسولو لاره:** لومړی، اعداد چې مخامخ پر تختې لیدل کیږي، هرې ډلې ته ورکوو چې پرتله (مقایسه) یې کړي، وروسته د هرې ډلې استازی راځي او د تختې څلور خواوو ته کښېني او اعداد سره پرتله کوي، ښوونکي د هرې ډلې کار ګوري او یاد داښتوي یې، وروسته ارزونه کوي چې کومې ډلې صحیح کار کړی او کومې ډلې اشتباه کړی دی لکه لاندې انځور:

هغو ډلو چې اشتباه کار کړی دی .




هغو ډلو چې صحیح کار کړی دی.



**تمرین:**

١ – لاندې اعداد له کمو څخه زیاتو اعدادو ته ترتیب کړئ.

٧٦، ٩۴، ٧٩، ٥٦، ٩١، ٦٨، ٨٢

____ < ____ < ____ < ____ < ____ < ___ < ___

٢ – لاندې اعداد له زیاتو څخه کمو اعدادو ته ترتیب کړئ.

٩٧، ٨١، ٧٥، ٥٩، ٦٨، ٩٥،٧٢

______>______>______>_______>_______>______>______

## ۱۰ – سلیز او زریز اعدادو باندې کار (فعالیت)


**موخه:** د درې رقمی اعدادو زده کړه.

**موده:** درسي ۵ ساعته.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا، ۲۵ دانې قوطی، ۴ دانې کڅوړې.


**فعالیت:** په ډلییزه او یوکسیره توګه فعالیت سرته رسیږي.

**د لوبې سرته رسول:** زده کوونکو تر ۹۹ پورې اعداد زده کړي دي. اوس نه یویز او نه لسیز لرو کله چې یو یویز نور زیات کړو، د لس یویزو څخه یو لسیز جوړو چې له مخکني نه لسیزو سره لس لسیز کیږي. د هرګروپ لپاره له لس قطی څخه زیاد سره له کڅوړي ورکړل شي چې له هغه څخه یو سلیز جوړ کړي او همدارنګه خپل کتابچې کې یویز، لسیز او سلیز په ګوته کړي، ښوونکی هر ګروپ مشاهده کړي وروسته د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کړي او د هغه تصویر په تخته باندې رسم کړي که چیرې یې اشتباه کار کړی وي لمړي د بل زده کوونکي څخه وغوښتل شي چې د هغه غلطی اصلاح کړي، که چیرې اصلاح ونه کړی شو ښوونکی دې دهغه غلطي اصلاح کړي.



**لمړۍ بیلګه:** سل په شکل کې وښیاست او وواياست چې په رقمو يې ويلاي شو.


١ – سل یویز



١٠٠ ٠٠

سل یویز

٢ – لس لسیز



١٠٠


صفر یویز – لس لسیز

٣ – یو سلیز



١٠٠

**صفر یویز – صفر لسیز – یو سلیز**





**دوییمه بیلګه:** ١٠٥ له څوسلیز، څولسیز او څو یویزو څخه جوړ شوی دی؟

**ځواب:** ١٠٥ له یو سلیز صفر لسیز او ٥ یویزو څخه جوړ شوي دي.

i. ٥ یویز + صفر لسیز + یو سلیز = ١٠٥

ii. ٥ یویز + ١٠ لسیز = ١٠٥

iii. ٥+ ١٠٠ = ١٠٥




**دریيمه بیلګه:** ١٢٦ د څو یویز، څو لسیز، او څو سلیز و څخه جوړ شوی دی.

**ځواب:** ١٢٦ له ٦ یویز دوه لسیز او یو سلیزو څخه جوړ شوی دی.

i. ۶ یویز + ٢ لسیز + ١ سلیز = ١٢۶

ii. ۶ یویز + ١٢ لسیز = ١٢۶

iii. ۶+ ٢٠ +١٠٠ = ١٢۶

**فعاليت:** زده کوونکي د تختې په سر غواړو د هغه څخه پوښتنې کوو چې دوه سوه اوه ويشت وليکه او وواياست څو يويز څولسيز او څو سليز لرى.

**څلورم بيلګه:** ۳۳۴ څو يويز، څو لسيز او د څو سليزو څخه جوړ شوى دى.




**ځواب:** ۳۳۴ له ۴ يويز، ۳ لسيزاو ۳ سليزو څخه جوړ شوى دى.

i. ۴ يويز + ۳ لسيز + ۳ سليز = ۳۳۴

ii. ۴ يويز + ۳۳ لسيز = ۳۳۴


iii. ۴ + ۳۰ + ۳۰۰ = ۳۳۴

**فعاليت:**

۵۵۷ =........+........+.......

......يويز + ...... لسيز +....... سليز = ۸۷۶

همدارنګه تر ۱۰۰۰ پورې مخ ته ځو. زياتوو، چې له مخکنې نه لسيزو سره لس لسيز کيږي، نو يو لسيز د نه مخکنى لسيزو سره کيږي لس لسيز، اوس لس لسيز يک کځوړى کى اچوو چې کيږي يو سليز، نو يو سليز د نه مخکنى سليزو سره کيږي لس سليز، اوس لس سليز يو کارتن کى اچوو چې کيږي ۱۰۰۰. لکه مخامخ او لاندى شکلونه په څير:



## ۱۱ ــ د درې رقمي اعدادو جمع کول:

**موخه:** زده کوونکي ټول درې رقمي عددونو یو له بله سره جمع کړای شي.

**موده:** د درسي دوه ساعته.


**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا، ۲۵ داني قوطی، ۴ داني کڅوړې

**فعالیت:** په ډلییزه او یو کسیزه توګه فعالیت سرته رسیږي.

**فعالیت:** بېلي بېلي پوښتني هرې ډلي ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشریح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.


**لمړی بیلګه:** ۱۲۳ او ۱۲۵ سره جمع

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۱ | ۳ | ۲ |
| + ۱ | ۲ | ۵ |
| ۲ | ۵ | ۷ |




**دوییمه بیلګه:** ۳۰۰ او ۲۱۷ سره جمع کوو

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۳ | ۰ | ۰ |
| + ۲ | ۲ | ۷ |
| ۵ | ۲ | ۷ |



**فعالیت:** د شکل د کارولو ښخه لاندی فعالیت بشپړ کړئ.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۴ |
| + ۲ | ۲ | ۵ |
| | | |



**فعالیت ۲:** د شکل د کارولو ښخه لاندی فعالیت بشپړ کړئ.

| سلیز | لسیز | یوییز |
|---|---|---|
| + | | |
| | | |



**تبصره:** لمړئ د شکل له مخی یویز، لسیز او سلیز یی ولیکئ او وروسته جمع کړئ.

# ۱۲ ـ د درې رقمي اعدادو تفريق د لسيز له خلاصولو څخه پرته

**هدف:** زده کوونکي درې رقمي اعداد پرته له لسيز خلاصولو څخه تفريق کړای شي.

**موده:** درسي درې ساعته

**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا، ۲۵ داني قوطی، کڅوړه.


**فعاليت:** په ډلييزه او يوکسيزه توګه فعاليت سرته رسيږي.

**فعاليت:** بېلې بېلې پوښتنې هرې ډلې ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشريح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتنې کولای شو.

**لمړی بېلګه:** تفريق کړی؟ ۳۶۸ - ۲۳۴ = ?


**حل:**

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۳ | ۶ | ۸ |
| ـ ۲ | ۳ | ۴ |
| ۱ | ۳ | ۴ |





**دوییمه بېلګه:** تفريق کړی؟ ۲۴۳ -۱۲۱

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۲ | ۴ | ۳ |
| ـ ۱ | ۲ | ۱ |
| ۱ | ۲ | ۲ |



**فعالیت ۱ :** د بنې له مخي تفریق کړی.

| صدها | ده ها | یکها |
|---|---|---|
| — | | |
| | | |



**فعالیت ۲ :** د بنې له مخي تفریق کړی.



| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| — | | |
| | | |

## ۱۳ ــ د درې رقمي اعدادو جمع کول چې حاصل ولري


**موخه:** زده کوونکي وکولای شي درې رقمي اعدادو جمع کولو کې حاصل ونيسي او د جمعي عمليه په صحيح توګه سرته ورسوي.

**موده:** درسي درې ساعته

**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا، ۲۵ داني قوطی، کڅوړه

**فعاليت:** په ډلييزه او يوکسيزه توګه فعاليت سرته رسيږي.

**فعاليت:** بېلې بېلې پوښتني هرې ډلي ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشريح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.




| سلېز | لسېز | يوېز |
|---|---|---|
| ۲ | ۵ | ۳ |
| ۱ + | ۷ | ۲ |
| | (۱)۲ | ۵ |

| سلېز | لسېز | يوېز |
|---|---|---|
| (۱) | | |
| ۲ | ۵ | ۳ |
| ۱+ | ۷ | ۲ |
| ۴ | ۲ | ۵ |

**فعاليت:** ۲۴۳ له ۱۸۰ سره جمع او په شکل کې وښياست.

**مثال ۲:** د ۴۴۲ عدد ته له ۲۸۳ عدد سره په شکل کې جمع کووو.



| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| ۴ | ۴ | ۲ |
| + ۲ | ۸ | ۳ |
| | ①۲ | ۵ |

| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| ① | | |
| ۴ | ۴ | ۲ |
| + ۲ | ۸ | ۳ |
| ۷ | ۲ | ۵ |

**فعالیت ۲:** د شکل له مخې جمعې اجزاوې ولیکئ او جمع کړئ.



| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| | | |
| + | | |
| | ○ | |

| سلیز | لسیز | یویز |
| --- | --- | --- |
| ○ | | |
| + | | |
| | | |

## ۱۴ ــ د درې رقمي اعدادو تفريق چې (لسيز خلاصولو) ته ضرورت لري

**موخه :** زده کوونکي و کولاي شي له يو درې رقمي عدد څخه درې رقمي عدد که چيرې لسيز خلاصولو ته اړ تيا وي تفريق کړاي شي .

**موده:** ۴ درسي ساعته .


**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا، ۲۵ داني قوطی، کڅوړه

**فعاليت:** په ډلييزه او يوکسيزه توګه فعاليت سرته رسيږي.

**فعاليت:** بېلې بېلې پوښتني هرې ډلې ته ورکوو دهر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشريح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.

**بيلګه :** تفريق کړئ؟ ۳۴۸ -۱۶۳

**حل:**



| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| ۲ | ۱۴ | |
| ~~۳~~ | ~~۴~~ | ۸ |
| ۱ ـ | ٦ | ۳ |
| ۱ | ۸ | ۵ |

**فعالیت ۱**: تفریق کړئ. ۱۴۵ - ۲۶۵

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |
| – | | |
| | | |



**فعالیت ۲**: د شکل له مخې تفریق کړئ.

| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |
| – | | |
| | | |



## ۱۵ ــ د ضرب مفهوم

**موخه:** د ضرب مفهوم زده کړه.

**موده:** درسي دوه سا عته .

**د اړتیا وړ درسي مواد:** کاغذ، د اوبو د بوتل سرپوښ، کڅوړه.

**فعالیت:** په ډلییزه توګه فعالیت سرته رسیږي.

**دلوبې سرته رسول:** تر څو چې د ضرب مفهوم ښه زده کړه وشي، یوه لوبه سرته رسوو، د اوبو درې سرپوښه اخلو او اعداد ۳، ۴، ۵ ورباندي لیکو او هغه په یوه کڅوړې کې اچوو. د هر ګروپ لپاره درې د اوبو د بوتل سر پوښ چې یو رقمي مختلف اعداد ورباندي لیکل شوي له خط کشی شوي کاغذ او کڅوړ سره ورکوو. او لیکل شوي اعداد په کڅوړې کې اچوو هر ګروپ ته ورکوو، هر ګروپ د بوتل سرپوښونه چې اعداد په کې لیکل شوي د خپل نمبر سره څوځلي د کڅوړې څخه اخلي.

**مثلاً:** ۳ عدد له کڅوړي څخه څلور ځلي اخلي د ۳ په مخ څلور کرښــې اوباسوو، ۴ عدد له کڅوړې څخه شپږ ځلی اخلي د څلور په مخ شپږ کرښه راکاږو همد ارنګه ۵عدد ۳ ځلي د کڅو ړي څخه اخلي او د ۵ په مخ درې کرښه را کاږو او لاندي جدول کې یې ښیو.

**نوت:** هر ځلی چې د اوبو د بوتل سرپوښ له کڅوړی اخستل کیږي وروسته د لیدلوڅخه بېرته په کڅوړې کې واچول شي .

| لیکل د ضرب سره | لیکل دجمعي سره | څو ځلي کرښه شوی | دهر ځل لپاره یو کرخه | اعداد چې سرپوښ باندي لیکل شوي |
|---|---|---|---|---|
| ۴×۳ | ۳+۳+۳+۳ | ۴ | //// | ۳ |
| ۶×۴ | ۴+۴+۴+۴+۴+۴ | ۶ | ////// | ۴ |
| ۳×۵ | ۵+۵+۵ | ۳ | /// | ۵ |

لیدل کیږي چې۳ څلور ځله له کڅوړی څخه اخستل شوی، ۴ شپږ ځله او ۵ درې ځله اخستل شوی.

**فعالیت ۱:** د جمعي افادې له مخې، د ضرب د افادې تش ځایونه ډک کړئ.

۵+۵+۵ = ۳ ×_____

۴+۴+۴+۴+۴+۴ = ٦ × _____

۳ +۳ +۳ = ۳ × _____

٦+٦ +٦ +٦ = ۴× _____

۸+۸+۸ = ۳ × _____

۱ +۱ +۱ = ۳ × ______

۷+۷+۷+۷ = ۴ × ______

۹+۹+۹ = ۳× ______

۳+۳+۳+۳ = ۴ × ______

۸+۸+۸+۸+۸ = ۵ × ______

**فعالیت ۲:** د ضرب افادې له مخې، د جمعي د افادې تش ځایونه ډک کړئ.

۲×۹ =_____+ ______ =_______

۲×۸ =_____+ ______ =_______

۲×۷ = _____ + ______ =______

۲×۶ = _____+ ______ =______

## ۱٦ ــ د یورقمي عدد ضربول په یو رقمي عدد کې

**هدف:** زده کوونکي یو رقمي عدد په یورقمي عدد کې ضرب کړاي شي .

**موده:** درسي درې ساعته.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا او قوطی

**فعالیت:** په ډلییزه او یوکسیره توګه فعالیت سرته رسیږي.


**فعالیت:** ښېلې ښېلې پوښتنې هرې ډلې ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشریح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتنې کولای شو.

**لمړی بېلګه:** ۲×۳ په عملي بڼه ضرب کړئ .




۲×۳=۳+۳=۶

**دوییمه بېلګه:** 2×۴ په عملي بڼه ضرب کړئ.




۴ × ۲ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۸

**فعالیت:** د شکل له مخې ضرب او لاندې جمع ولیکئ.



_____ × _____ = _____ + _____ + _____ = ______

**دریېمه بېلګه:** ۷×۳ په عملي بڼه ضرب کړئ.



۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳= ۷×۳=۲۱

**فعالیت:** مخا مخ علامې په مناسب ځا یو نو کې ولیکئ. (- ، = ، × ، + )

۲۶ □ ۲۴ □ ۲

۲۲ □ ۲ □ ۲۴

۸ □ ۴ □ ۲

۱۴ □ ۱۶ □ ۳۰

۵۲ □ ۲ □ ۵۰

۱۰ □ ۲ □ ۵

۴۸ □ ۲ □ ۵۰

۶ □ ۲ □ ۳

**فعالیت 2:** ضرب اوبشپړ کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| × | | ۴ | |
| ۲ | ۴ | | |
| ۴ | | | ۲۰ |
| ۵ | | | ۲۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| × | ۱ | ۳ | ۶ |
| ۱ | | | |
| ۳ | | ۹ | |
| ۶ | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| × | ۲ | ۵ | ۱ |
| ۲ | ۴ | ۱۰ | ۲ |
| ۵ | | | |
| ۷ | | | ۷ |

## ۱۷ – د يو رقمي عدد ضربول په دوه رقمي عدد کې

**هدف:** زده کوونکي يو رقمي عدد په دوه رقمي عدد کې ضرب کړاي شي او په عين وخت کې د ضرب حاصل وپيژني.


**موده:** درسي درې ساعته

**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا او قوطی

**فعاليت:** په ډليزه او يوکسيزه توګه فعاليت سرته رسيږي .


**فعاليت:** بېلي بېلي پوښتني هرې ډلي ته ورکوو د هر ګروپ استازی پوښتنه په تختې باندې حل او تشريح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.

**بېلګه:** ضرب او په عملي بڼه يې وښياست. (۱۳×۵)




$۱۳ \times ۵ = ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ = ٦۵$

همدارنګه په ضرب کې د بدلون خاصيت صدق کوي لاندې بېلګه داسې هم ليکلی شو.




$$\begin{array}{r} ۱۳ \\ \times\ ۵ \\ \hline ۱۵ \\ +\ ۵۰ \\ \hline ٦۵ \end{array}$$

**مثال:** ضرب کړئ؟    (۳×۲۴)





۳×۲۴ مساوی ده له اووه لسیز او دوه یویز (۳ × ۲۴ = ۲۴+ ۲۴ + ۲۴ = ۷۲)

**فعالیت ۱:** د شکل له مخی تش ځایونه بشپړ کړئ.



___ + _____ + _____ = ______ × ______ = ______

**فعالیت ۲:** د شکل له مخی تش ځایونه بشپړ کړئ.



___ + _____ + _____ = ______ × ______ = ______

## ضربول په بلې طريقې سره

د جدول د طريقې په کارولو سره چې يو رقمي عدد ضربول د دوه رقمي سره دی، لومړی يو جدول رسمو چې د درې سطره او د درې ستون لرونکی وي په لومړي سطر د ښې طرفه په لومړي ستون کې يويز عدد، په دوييم ستون کې لسيز عدد، او په درېيم ستون کې د ضرب علامه او همداسې په دوييم سطرکی له چپ طرفه لومړي ستون کې د نوموړي عدد مضرب، په دويم او درېيم ستون کې د ضرب حاصل او په روستي ستون کې د ضرب حاصلونه سره جمع کوو او ليکو يې.

**لومړی بېلګه:** ضربو يې. ۵×۲۳

| | | |
|---|---|---|
| X | ۲۰ | ۳ |
| ۵ | ۵×۲۰=۱۰۰ | ۵×۳=۱۵ |
| ۵×۲۳ | ۱۰۰ + ۱۵ = ۱۱۵ | |

**دويمه بيلګه:** ضربو يې ۵×۱۴

| | | |
|---|---|---|
| X | ۱۰ | ۴ |
| ۵ | ۵×۱۰=۵۰ | ۵×۴=۲۰ |
| ۵×۱۴ | ۵۰ + ۲۰ = ۷۰ | |

**فعاليت:** ضرب يې کړئ. ۶×۱۳

| | | |
|---|---|---|
| X | ۱۰ | ۳ |
| ٦ | | |
| ٦×۱۳ | | |

## ۱۸ ــ د وېش (تقسیم) مفهوم


**موخه:** د زده کوونکو بلد تیا، د یو څيز وېشل په څو مساوی برخو باندي.

**موده:** دوه درسي ساعته.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا او قوطی.


**فعالیت:** په ډلېزه او یو کسیزه توګه د فعالیت سرته رسول.

**د لوبی د سرته رسولو چارې:** د تقسیم دزده کړې لپاره ښوونکی ٦، ٦ دانې لوبیا دوه ډلو ته او ۸، ۸ دانې لوبیا دوه نورو ډلو ته ورکوي او هرې ډلې ته لارښوونه کوي چې لوبیا ګانې په مساوي دستو(ګېډیو) باندې جلا کړي. د مثال په توګه "الف" ډله دوه دانه یي دستې "ب" ډله ۳ دانه یي دستې "ج" ډله ۴ دانه یي او د "د" ډله ۲ دانه یي دستې جوړې کړي. او دهرې ډلې څخه وغوښتل شي چې د خپل دستو تعداد ووایي. ډلې شاید داسي ځواب ورکړئ.





اوس ښوونکی مفهوم په یوه عبارت کې وړاندې کوي او وایي چې: زده کوونکو! وموليدل که چېرې٦ دانې لوبیا په ۲ دانه یي بستو کې جلا کړو ۲ دستې ، که چېرې په ۳ دانه یي جلا کړو ۲ دستې کېږي. پورتنی عبارت په حساب کې داسي لیکوچې: شپږ تقسیم په درې مساوي کېږي په دوه (۲= ۳ ÷ ٦)، شپږ تقسیم په دوه مساوي کېږي پردرې (۳= ۲ ÷ ٦)، اته تقسیم پر دوه، مساوي کېږي په څلور (۴= ۲ ÷ ۸) او اته تقسیم پر څلور مساوي کېږي په دوه(۲= ۴ ÷ ۸).

**فعالیت:** د ۹ دانو لوبیا ګانو څخه څو دانې ۳ دانه یي بستې جوړولای شو؟



نو اوس لیکلی شو چې.          ۳ = ۳÷۹

**لومړۍ بېلګه:** د ۸ دانو لوبیا ګانو څخه څو دانې ۲ دانه یې بستې جوړولای شو.



۸÷۲= ----

## اخځلیکونه

1- د دویم دبستان ریاضی (داکترمحمدحسن جمالی)

2- دښوونکی لارښود کتاب (سرژپتی)

3- دابتدایی سویی ریاضی او حساب (روبرت ایلر)

4- دابتدایی سویی ریاضی او حساب (پیرکولن)


د ریاضی لارښود
د دویم ټولگی لپاره
AFRANE
AMITIE FRANCO-AFGHANE